مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۷ د لیندۍ پنځمه | د ۲۰۱۸ د نومبر ۲۶مه | دویم کال| ۲۸۹یمه ګڼه

# ولسمشریزې ټاکنې د ورې له ۳۱مې د چنګاښ ۲۲مې ته ځنډول کېږي



۳

د کابل په کوڅو کې بغاوت
۲ مخ


حکمتیار
۲ مخ

د ایټالیا لس مشهور او جذاب ښارونه
۵ مخ

## پر جنایتونو د تورن غیر مسوول قوماندان علي پور ملاتړو په کابل کې ۲۳ پولیس ټپیان کړل

د کابل د امنیه قوماندانۍ چارواکي وايي، د غیر مسوولو وسله والو د قوماندان علي پور د نیولو په غبرګون کې لاریونوالو پر پولیسو ډزې کړې او پر عامه تاسیساتو یې بریدونه کړي دي.
د کابل امنیه قوماندان سیدمحمد روشندل وایي چې د لاریونوالو په بریدونو کې ۲۳ پولیس ټپیان شوي دي.
روشندل زیاتوي: «تر اوسه زموږ درې تنه پولیس په مرمیو ټپیان شوي او ۲۰ تنه نور پولیس د تیږو او لرګیو په وارونو کې ټپیان شوي دي، د پولیسو تاسیساتو ته هم دوی اور اچولی دی چې د ټرافیکو غرفې دي، د پولیسو د پیره دارۍ محلات او نظامي وسایط دي».
روشندل پر پولیسو او نظامي تاسیساتو د یادو کسانو بریدونه د قانون خلاف بللي دي.
د کورنیو چارو وزارت قوماندان علي پور یو غیر مسوول قوماندان بللی دی. امنیتي ځواکونو تر دې مخکې هم په غور ولایت کې د نوموړي د نیولو په موخه عملیات وکړل چې پرمهال یې څلور پولیس او اته ملکي وګړي ووژل شول، خو خپله علي پور وتښتېد.
علي پور وروسته په وردګو کې خپلو پلویانو ته د وینا پرمهال وویل چې حکومت یې د نیولو توان نه لري.
د ملي یووالي حکومت د اجراییه ریاست دویم مرستیال محمد محقق په یوه اعلامیه کې د علي پور نیونه یو «غیر مسوولانه او لمسونکی» کار بللی.
نوموړي له حکومته د علي پور د ژر تر ژره خوشي کېدو غوښتنه کړې ده.

## هند به د افغانستان د باور وړ ستراتیژیک ملګری پاتې شي



۳ مخ

هېواد
۴ مخ

## سوډان

د سوډان ۸۱ سلنه وګړي د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۵۶ سلنه صادرات او ۲۵ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له دغه سکټور څخه لاس ته راځي.



## په بلخ کې د ۱۰۶ میلیونو افغانیو په لګښت اته کانالونه ګټې اخیستنې ته وسپارل شول




د کرنې او مالدارۍ وزارت چارواکي وايي، په بلخ ولایت کې د ۱۰٦ میلیونو افغانیو په لګښت اته کانالونه جوړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي.
چارواکي وايي، پر دې اتو کرنیزو کانالونو ټولټال ۱۰٦ میلیونه افغانۍ لګښت راغلی چې د یاد وزارت په کروندو کې د اوبو د تنظیم له خوا ورکړل شوې دي.
د بلخ ولایت د کرنې رییس محمدسالم ساعي وایي، دغه کانالونه به په بېلابېلو سیمو کې ۲۵ زره جریبه کرنیزه ځمکه خړوبوي او درې زره کورنۍ به ترې ګټه پورته کوي.
نوموړي دغه راز ویلي، د دغو کانالونو په جوړېدو سره د اوبو د ضایعاتو مخه نیول شوې او همدا راز له دغو کانالونو څخه په استفادې به د حاصلاتو کیفیت ښه او کچه به یې زیاته شي.

## مشرانو جرگه طرح بودجه ملی سال مالی ۱۳۹۸ را تصویب کرد



مشرانو جرگه طرح بودجه‌ی ملی سال مالی ۱۳۹۸ را دیروز با افزودن نظریات پیشنهادی سناتوران، تائید کرد.
پیش از این، همایون قیومی سرپرست وزارت مالیه گفته بود که نیمی از نظریات مشورتی سناتوران را در طرح بودجه‌ی ملی می‌گنجاند. فضل‌هادی مسلم‌یار، رئیس مشرانو جرگه در نشست دیروز گفت، تلاش می‌شود که از هر سناتور یک پروژه‌ی ولایتی در بودجه گنجانیده و نیز قناعت ولسی جرگه در زمینه گرفته شود.
مجموع بودجه‌ی ملی سال مالی ۱۳۹۸ هجری شمسی، ۳۹۹ میلیارد افغانی پیشبینی شده که ۲۷۵ میلیارد آن بودجه‌ی عادی و ۱۲۴ میلیارد بودجه‌ی انکشافی در نظر گرفته شده است.
از مجموع ۱۲۴ میلیارد افغانی بودجه‌ی انکشافی نیز ٦۱ میلیارد آن بودجه‌ی اختیاری بوده و ٦۳ میلیارد دیگر آن بودجه‌ی غیراختیاری است که از سوی کشورها و نهادهای کمک کننده‌ی جهانی مصرف خواهد شد.
بودجه‌ی انکشافی سال مالی ۱۳۹۸ نسبت به بودجه‌ی سال مالی ۱۳۹۷ حدود ۱۲ درصد افزایش یافته است.
همچنین این طرح بودجه ۱۲ میلیارد افغانی کسر دارد.
طرح بودجه‌ی ملی به تاریخ ۲۰ عقرب از سوی وزارت مالیه جهت تائید به مشرانو جرگه معرفی شده بود.
بر بنیاد قانون، این جرگه مکلف است تا در مدت ۱۵ روز طرح بودجه‌ی ملی را تائید کرده و دوباره به وزارت مالیه بفرستد تا آن وزارت جهت تصویب به ولسی جرگه معرفی کند.
مشرانو جرگه تنها صلاحیت تائید بودجه‌ی ملی را دارد، ولی ولسي جرگه طرح بودجه را تصویب می کند.

درېــځ

## د کابل په کوڅو کې بغاوت

د کابل په لوېدیځ کې پرون تر ناوخته پورې لارې بندې وې، پرله پسې د ډزو غږونه اورېدل کېدل، له ځینو ځایونو دودونه پورته کېدل، ښځو، ماشومانو او خلکو په کوڅو کې منډې وهلې. دا اخ و ډب له هغه وروسته پیل شو چې افغان ځواکونو د علي پور په نامه د سیمه ییزو خپلسرو وسله والو مشر ونیو. حکومتي سرچینې وایي چې علي پور د خلکو په ځورولو او جرمونو تورن دی او باید په عدلي او قضایي ارګانونو کې ځواب ووایي. د کابل په لوېدیځ کې ځینې هزاره توکمه وګړي بیا وایي چې علي پور باید له قید او شرط پرته خوشي شي.

علي پور څوک دی، ولې حکومت ونیو، څوک د هغه د نیولو مخالف دي، هغه څه چې په کابل ښار کې روان وو، د لاریون په نامه توجیه کېدای شي او حکومت باید دغه ډول کړنو ته څه ډول ځواب ووایي؟

علي پور د سیمه ییزو خپلسرو وسله والو یو مشر و چې څو کاله وړاندې یې په میدان وردګو کې ناقانونه وسله واله ډله جوړه کړه. نوموړي دا ډله په ظاهره د طالبانو پرضد جوړه کړه، خو وروسته به یې عام خلک ځورول، بندیانول او ان وژل یې هم. هغه وروسته غور ولایت ته ولاړ او هلته یې هم همداسې جرمونو ته دوام ورکړ. څو میاشتې وړاندې په غور کې امنیتي ځواکونو د هغه پرضد عملیات وکړل. علي پور هلته ملکي خلک د سپر په توګه وکارول، اووه کسه په دغو عملیاتو کې ووژل شول او خپله په تېښته بریالی شو. دا جنګسالار د وحدت ګوند غړیتوب لري، خو ځینې نورې سیاسي کړۍ یې هم په ښکاره ملاتړ کوي.

ځینې کسان هڅه کوي چې له علي پور څخه په ملاتړ سره د هغه نیولو ته قومي رنګ ورکړي. حکومت له دې وړاندې په فاریاب کې نظام الدین قیصاري، په کندوز کې متینک، په اروزګان کې قوماندان رحیم الله او ځینې نور خپلسري وسله وال هم نیولي وو. اوس پوښتنه دا ده چې که علي پور ګنهګار نه وي، نو ولې له عدلي او قضایي ارګانونو وېرېږي؟ ولې یو څوک باید له پراخو شکایتونو او تورونو سره سره عدلي او قضایي ارګانونو ته حاضر نه شي؟ ځینې کړۍ ولې غواړي چې د دوی د قوم، ژبې، سمت او مذهب اړوند جنایتکاران خوندي وي!؟ هېڅوک له قانون څخه لوړ نه دي. که دلته پر هر چا تور لګېږي او شکایت ترې کېږي، باید په عدلي او قضایي ارګانونو کې ځواب ووایي. د لارو بندول، د ښار ګډوډول، د خلکو وېرول، ناقانونه وسله کارول، پر امنیتي ځواکونو برید او نور دا ډول کارونه نه مدنیت دی او نه هم په قانون کې اجازه ورکړل شوې ده. دا کار په ښکاره د نظام او قانون پر ضد بغاوت دی. دغه کسان نه یوازې دا چې باید د عدالت پر وړاندې خنډ نه شي، بلکې هغوی چې دا ډول ناقانونه غبرګون ښیي، باید محاکمه شي.

حکومت ته پکار ده چې د قانون د واکمنۍ لپاره لا پیاوړي ګامونه واخلي. علي پور او نور تورن باید محاکمه شي. هغوی چې د قانون او حکومت پرضد ګام اخلي، تاوتریخوالی کوي او نه پرېږدي چې قانون عملي شي، باغیان دي او باید پر ضد یې قهریه ځواک وکارول شي.

# حکمتیار

لیکنه: زاهدخلیلي

له څلورو لسیزو ډېر وخت کېږي چې ګلبدین حکمتیار د افغان سیاست پر ستېج لوبېږي. د هغه ژوند د محصلۍ له پیله تر اوسه له لوړو-ژورو او له رازونو- رمزونو ډک دی. جګړې او سیاست ته ور ننوتل یې په ډېر عجیب انداز شوي.

د ژوند په ټوله موده کې په کابل کې د بېلابېلو واکمنو ایډیالوژیکي حکومتونو مخالف پاتې شوی. له کلونو وروسته د اشرف غني په مشرۍ افغان حکومت په لومړي ځل وتوانېد چې حکمتیار دلاسه او مرکز کابل ته یې راولي. داسې یې راوست چې د ده مخالفین له حکومت سره د ده د یو ځای کېدو په اړه د ده پخوانیو دریځونو ته حیران دي او ځینې خو یې کابل ته راتلل تسلیمي ګڼي.

اشتیاق احمد پاکستانی لیکوال دی. څو کاله د (the muslim) او د (the nation) ورځپاڼو ایډېټر پاتې شوی دی، د شوروي ضد جګړې پر مهال او وروسته یې افغان چارې له نږدې څارلې، کندهار ته یې سفر کړی او د جهادیانو د انارشۍ وروستي کلونه او د طالبانو په لاس د جهادیانو د انارشۍ سقوط یې له نږدې لیدلی او نوموړی دغه راز د سیاسي علومو پروفیسر هم دی.

د اشتیاق احمد کتاب Gulbuddin Hekmatyar: An) (Afghan Trail from Jihad to Terrorism مې د سږک غاړې په پلورل کېدونکو زړو کتابونو کې وموند. ښایي دا به د حکمتیار په اړه لومړنی کتاب وي چې د هغه په ژوند پکې لږ رڼا اچول شوې. کتاب په ۲۰۰۴ ز کال کې چاپ شوی او د لسګونو سرچینو په حواله لیکل شوی دی.

لیکوال کتاب په شپږو فصلونو وېشلی. د کتاب په لومړي مخ کې حکمتیار خطرناک او نه اټکلېدونکی شخص بلل شوی. حکمتیار په ۱۹۴۷ یا ۱۹۴۶ ز کال کې د کندوز په امام صاحب ولسوالۍ کې زیږېدلی. د حکمتیار کورنۍ د غزني له قره باغ څخه امام صاحب ته کډه کړې. حکمتیار خروټی پښتون دی. لیکوال وایي، د حکمتیار د ژوند لومړي کلونه له رمزونو ډک دي. لیکوال د حکمتیار په اړه د روبرټ کپلان دا خبره هم راخیستې چې حکمتیار د افغانستان د شمال پښتون دی، خو سترګې یې د افغانستان د سوېل او ختیځو پښتنو په څېر نه دي.

د حکمتیار د ښوونځي د کلونو له مهاله ښکاري چې هغه ځیرک، هوښیار او چالاکه دی. حکمتیار په شپږو ژبو پوهېږي، خو لیکوال وایي، زما په یاد دي چې د ۱۹۸۹ ز کال په نومبر کې یې اسلام اباد کې یوې غونډې ته د انګلیسي پر ځای پښتو خبرې کولې او زوم یې غیرت بهیر ژباړلې.

حکمتیار په ۱۹۹۲ ز کال کې له یوه روسي ژورنالېست سره خبرو کې وایي چې نږدې اته څلوېښت کتابونه مې لیکلي. لیکوال د حکمتیار د کورنۍ او دوه زومانو غیرت بهیر او همایون جریر په اړه هم لیکل کړي چې وروستیو دوو یې د حزب اسلامي په سیاست او ډیپلوماسۍ کې مهم رول لوبولی دی.

حکمتیار او مسعود د کابل پوهنتون په انجنیرۍ پوهنځي کې وو، خو یوه یې هم درسونه سر ته و نه رسول. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۲ ز کال پورې، یانې دوه کاله حکمتیار د پوهنتون محصل و. هغه انجنیري سر ته و نه رسوله، خو تر اوسه ورته انجنیر ویل کېږي.

حکمتیار پوهنتون ته له تګ وړاندې دوه کاله کابل کې د پوځي عالي ښوونځي زده کوونکی و، خو د سیاسي فعالیت له امله ترې ویستل شوی و.

حکمتیار چې په کندوز کې په ښوونځي کې و، نو څلور کاله د پرچم ګوند سره یو ځای و.

د محمد داود د جمهوریت پر مهال د یوه شعله یي سیدال سخندان د وژلو په تور یو نیم کال بندي شو. دغه مهال حکمتیار د نقاب (حجاب) نه لرونکو ښځینه محصلینو پر مخونو په تېزابو پاشلو هم بدنام و، خو تېر کال کابل ته له راتګ وروسته حکمتیار له رسنیو سره په خبرو کې په ده ځینې لګېدلي تورونه رد کړل.

لیکوال د جوانان مسلمان د اخواني نهضت پر جوړېدو او د حکمتیار او نورو اسلامیستانو په سیاسي ایډیالوژۍ هم بحث کړی دی.

په کتاب کې په ۱۹۷۴ ز کال پاکستان ته د حکمتیار، رباني، مسعود او نورو اخوانیانو په تګ او د پاکستاني نصیرالله بابر له لوري د دوی په جذب، روزنې او بیا د محمد داود پر ضد د دوی د وسله وال ناکام پاڅون په اړه هم لیکل شوي. له ناکام پاڅون وروسته د رباني، مسعود او حکمتیار لارې جلا او حکمتیار په ۱۹۷۶ ز کال کې خپل حزب اسلامي جوړ کړ.

پاکستان په ځانګړي ډول د حکمتیار له لارې اسلامیستان پیاوړي کړل. د جنرال ضیا له واک ته رسېدو وروسته دغه چاره نوره هم پیاوړې شوه. د اسلامیستانو له ملاتړ د پاکستان اصلي موخه د محمد داود خان له لوري د پښتونستان د ادعا ناکامول او له ملي داعیې د محمد داود ګرځول وو.

د شوروي له یرغل لږ وړاندې یونس خالص له حکمتیار جلا او خپل حزب یې جوړ کړ.

لیکوال د رباني او حکمتیار په دښمنۍ هم رڼا اچولې. د لیکوال په وینا، رباني د حکمتیار په پرتله سازشي (روغه جوړه کوونکی) و. رباني له حکمتیار ډېر تجربه لرونکی او نرۍ یې لیدلې وه.

حکمتیار د شوروي ضد جګړه کې تر ټولو مهم رول لوبولی او له ټولو جهادي ډلو یې ډېرې مرستې ترلاسه کړې. امریکا چې نږدې درې میلیادره ډالر یې د پاکستان د استخباراتو (ای اېس ای) له لارې افغان جهاد ته ورکړي وو، له دې ۶۳۰ میلیونه ډالر د حکمتیار حزب اسلامي ته ورکړل شوي.

د لیکوال په وینا، ای اېس ای د څو لاملونو له امله حکمتیار ته لومړیتوب ورکاوه. لومړی دا چې پاکستان له ۱۹۷۰ ز کال راهیسې حکمتیار د افغانستان د پښتونستان (د ادعا) د ملاتړ پر ضد چمتو کاوه. بل دا چې حکمتیار د کشمیر په مسئله کې د پاکستان د دریځ او په قبایلي سیمو کې د پاکستان د اساسي ګټو ملاتړی و. د پاکستان جماعت اسلامي یو بل فکټور و چې حکمتیار یې د پاکستان پوځي استېبلېشمنټ ته نږدې کړی و او کله چې پښتون قاضي حسین احمد د جماعت اسلامي مشر شو، نو دا اړیکې نورې هم ژورې شوې.

جنرال ضیا د شوروي ضد جګړې په وروستیو کې د حکمتیار په اړه د امریکا له نیوکو وروسته ویلي وو، دا پاکستان و چې حکمتیار یې افغان مشر جوړ کړ او که چېرې حکمتیار خپل ناوړه چلند روان وساتي، نو بیا به یې (پاکستان) له منځه یوسي.

لیکوال د شوروي ضد جګړه کې د امریکا د کانګرېس د غړي چارلي ویلسن رول هم څرګند کړی. موده وړاندې د چارلي وېلسن د رول په اړه د هالي ووډ یو فلم هم خپور شو.

د لیکوال په وینا، صبغت الله مجددي به حکمتیار رښتیني بلا، د افغانستان دښمن او داسې خطرناک بنسټپال باله چې د معتدلو افغانانو په وژنه بوخت و. مجددي په ۱۹۸۳ ز کال کې امریکا ته ویلي وو چې یوه ورځ به د حکمتیار په ملاتړ پښېمانه شي.

د شوروي له وتلو وروسته که یوه خوا جهادیان د نجیب د حکومت پر ضد په جګړه بوخت وو، نو ترڅنګ یې حزب اسلامي او جمعیت اسلامي د یوه بل غړي او مشهور قوماندانان هم وژلي. لیکوال د دوی ترمنځ دغو جګړو ته هم اشاره کړې او د ځینو وژل شویو کسانو نومونه یې هم لیکلي.

دغه راز د هغو افغان کډوالو وژلو ته هم اشاره شوې چې پړه یې په حکمتیار اچول کېږي. په دوی کې تر ټولو مهم یې د کابل پوهنتون د فلسفې مشر استاد بهاوالدین مجروح دی چې په پېښور کې ووژل شو. مجروح د پخواني پاچا ظاهر شاه د راتګ پلوی او په پېښور کې د افغان جهاد په اړه د مالوماتو ورکولو یوزاینۍ خپلواکه سرچینه وه. مجروح فکر کاوه چې پاچا به ویجاړ شوی افغانستان بېرته جوړ کړي، خو حکمتیار د پاچا سخت مخالف و.

لیکوال د نجیب له سقوط وروسته د جهادیانو ترمنځ د کابل د ورانولو سیالۍ ته او په دې کې د حکمتیار رول ته هم اشاره کړې. لیکوال حکمتیار د کابل د ورانوونکو له ډلې یو کس ګڼي چې راکټونو یې په کابل کې خلک ووژل او کابل یې کنډواله کړ.

د کتاب وروستیو کې د طالبانو له امله ایران ته د حکمتیار تښتېدل، د ایران له لوري ایستل او بیا د کرزي په مشرۍ د حکومت پر ضد د حکمتیار د جګړې او له طالبانو او القاعدې سره د حکمتیار په ائتلافونو خبرې شوې دي. لیکوال وایي، حکمتیار د جهاد، کورنۍ جګړې او بیا د کرزي د واکمنۍ پر مهال له ترور نه ګټه اخیستې، څو خپل مخالفین کمزوري او یا یې له منځه یوسي.

لیکوال په پای کې حکمتیار د افغانستان دننه د عام وژنو، مرګونو، ویجاړۍ او بدمرغۍ مسوول هم ګڼي او وایي چې د شخصي قدرت د ترلاسه کولو لپاره یې دېرش کاله وړاندې مبارزه پیل کړه.

اشتیاق احمد لیکي، حکمتیار د قدرت وږی دی چې مرتجع اسلام د سیاسي قدرت د ترلاسه کولو لپاره کاروي. لیکوال وایي، مناسبه به وي چې حکمتیار افغان مکیاویلي وګڼو. حکمتیار هېڅ دایمي دښمن او دایمي دوست نه لري.

## معترض نوماندان: په فراه کې د ولسي جرګې ټاکنې دې د غزني له ټاکنو سره یو ځای بیا ترسره شي

له فراه څخه د ولسي جرګې ځینې معترض نوماندان وایي، د دغه ولایت ټاکنې دې باطلې او له غزني ولایت سره یو ځای ترسره شي؛ ځکه چې پراخې درغلۍ پکې شوې دي.

له فراه څخه ٤٢ تنه د ولسي جرګې ټاکنو ته نوماند شوي وو. د ټاکنو کمېسیون له دې ډلې بلقیس روشن، عبدالجلیل بختور، همایون شهیدزاده، عبدالستار حسیني او عبدالنصیر فراهي مخکښ نوماندان اعلان کړي دي. دغه پنځه کسان ټول نوې څېرې دي او تر دې مخکې یې د یادې جرګې غړیتوب نه درلود.

پرون شاوخوا شلو تنو چې ځینې یې له فراه څخه ولسي جرګې ته نوماند او ځینې د نورو نوماندانو استازي وو، کابل کې ګډه خبري ناسته جوړه کړې وه.

له دغو معترضو نوماندانو څخه محمد سرور فراهي وویل، چې د ناامنیو له امله د فراه له لسو ولسوالیو څخه په شپږو کې یوازې ۱۲ رایې کارول شوې او د ټاکنو په ورځ د رایې ورکولو ډېرې مرکزونه له ټاکل شوي ځای څخه بل ځای ته لېږدول شوي وو.


یادو کسانو په دغه ولایت کې په ټاکنو کې د فساد په تړاو ځینې انځورونه او ویډیوګانې هم رسنیو ته ورکړې.

په دغو ویډیوګانې کې ظاهراً ښکاري چې یو رایه ورکوونکی خپل نوم حامد ښیي، خو په تذکره کې یې نوم نثار احمد دی او په بله ویډیو کې ښکاري چې یو ١٦ کلن هلک رایه ورکوي.

په بله ویډیو کې ښکاري چې صندوقونه د پولیسو په رنجر موټر کې لېږدول کېږي، یو کس وایي چې د صندوقونو سرونه نه دي قفل شوي او رایې نه دي شمېرل شوې.

له فراه څخه ولسي جرګې ته بل متعرض نوماند عبدالناصر فراهي وویل چې د ټاکنو کمېسیون باید د دغو اسنادو په پام کې نیولو سره د فراه خلکو او د هغوی استازو ته په دغه ولایت کې د رښو ټاکنو په اړه قناعت ورکړي.

دی زیاتوي چې کمېسیون باید تورې او سپینې رایې سره بېلې او د ملت کور ته د رښو رایو لرونکي کسان ولېږي.



ده چې د نورو په استازیتوب یې خبرې کولې وویل چې د فراه ټاکنې دې باطلې اعلان او په غزني کې د ولسي جرګې او دغه راز د ولسمشریزو ټاکنو سره دې یو ځای تر سره شي.

نږدې یوه میاشت مخکې یوه چورلکه چې له فراه څخه هرات ته پر لاره وه، ولوېده. د راپورونو له مخې په دې چورلکه کې چې ۲۷ تنه په کې مړه شول، د فراه د ټاکنو اړوند ځینې توکي سوځېدلي، خو د ټاکنو کمېسیون ویلي چې په دې پېښه کې د رایو صندوقونه نه دي سوځېدلي.

د ټاکنو کمېسیون وایي چې په دې پېښه کې د ټاکنو د پایلو د جدولونو د کاپي محافظتي کڅوړې سوځېدلې چې د ټاکنو پر پایلو کوم اغېز نه لري.

د اعتراض کوونکو په پرېکړه لیک کې د ټولو درغلیو پر څېړلو د ټینګار تر څنګ راغلي چې د چورلکې د لوېدو په پېښه کې د ټاکنو د بایومېټریک دستګاوې سوځېدلې چې باید په اړه یې تصمیم ونیول شي.

# ولسمشریزې ټاکنې د وري له ۳۱مې د چنګاښ ۲۲مې ته ځنډول کېږي



یوه کمېټه پر دې سلا شوې چې د ولسمشرۍ، ولایتي او ولسوالیو شوراګانو ټاکنې د راتلونکي کال د چنګاښ ۲۸مې ته وځنډول شي، خو ویل کېږي چې دا هوکړه لا وروستۍ شوې نه ده.
د هغه تازه مهالوېش له مخې چې رسنیو خپور کړی، د ولسمشریزو ټاکنو د نوملیکنې لپاره د روان کال د مرغومي له ۱۱مې د سلواغې تر ۸مې پورې وخت ځانګړی شوی دی.
د دغه مهالوېش له مخې، د ولسمشریزو او نورو ټاکنو د ترسره کولو لپاره د چنګاښ ۲۲مه چې د ۲۰۱۹ ز کال د جولای له ۱۳مې سره برابره ده، په پام کې نیول شوې ده.
په مهالوېش کې د ۱۳۹۸ لمریز کال د زمري ۲۰مه د لومړنیو پایلو د اعلان او د وږي ۲۴مه د ولسمشریزو ټاکنو د وروستیو پایلو د اعلان لپاره په پام کې نیول شوې ده.
یوې کره سرچینې د نوم نه اخیستو په شرط پژواک ته ویلي، د ټاکنیزو کمېسیونونو یو ګډ ټیم چې د دارالانشا رییسان، د ټاکنیزو کمېسیونونو څلور غړي او د ټاکنو څلور متخصصین پکې شامل دي، د ورمې ورځې په ناسته کې هوکړه کړې چې ټاکنې د سړو او د تګ را تګ لارو د خرابوالي له کبله د حمل له ۳۱مې د چنګاښ تر ۲۲مې پورې وځنډوي.
سرچینې ویلي چې د ولسي جرګې د ټاکنو د رایو ارزولو او بیا شمېرنې، د هوا سړوالي او د ځینو ولایتونو د لارو خرابوالي د ولسمشریزو ټاکنو ځنډ اړین کړی دی.
له دې مخکې داسې ګنګوسې وې چې د سولې د خبرو د پیل او په ولسمشریزو ټاکنو کې د طالبانو د ګډون لپاره ښایي ولسمشریزې ټاکنې څو میاشتې وځنډېږي، خو دا موضوع تر اوسه هېڅ رسمي بنسټ نه ده تایید کړې.
د افغانستان د سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت استازي زلمي خلیلزاد تېره اونۍ د قطر په پلازمېنه دوحه کې له طالب استازو سره تر دویم ځلي لیدو وروسته په کابل کې یوې خبري ناستې ته ویل، هیله من دی چې افغان دولت او طالبان به په راتلونکو څو میاشتو کې د سولې یوې هوکړې ته ورسېږي، خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون رییس عبدالبدیع صیاد بیا یوه خبري کنفرانس ته په خبرو کې پر ټاکلي وخت د ولسمشریزو ټاکنو پر ترسره کېدو ټینګار وکړ او ویې ویل: «سیاسي پرېکړې په موږ پورې تړاو نه لري، په حکومت او طالبانو پورې اړه لري او د ټاکنو پر ترسره کېدو به هېڅ تاثیر ونه لري».
دغه راز صیاد دې ته په اشارې چې تر اوسه د ولسمشریزو ټاکنو د ترسره کېدو د ځنډ په اړه هېڅ تصمیم نه دی نیول شوی وویل، کمېسیون مخکې اعلان کړی چې ولسمشریزې ټاکنې د ۱۳۹۸ لمریز کال د وري په ۳۱مه ترسره کېږي.
خو له دې مخکې هم داسې راپورونه خپاره شوي وو چې د ټاکنو کمېسیون پر ټاکلي وخت د ولسمشریزو ټاکنو د ترسره کېدو توان نه لري او ښايي دا ټاکنې وځنډېږي.
حکومت بیا د ټاکنو د ځنډ خبر رد کړی او ویلي یې دي چې په مخکې اعلان شوې نېټه د ټاکنو ترسره کولو ته بشپړ چمتووالی لري.

## د هند سفیر: هند به د افغانستان د باور وړ ستراتېژیک ملګری پاتې شي



په کابل کې د هند سفیر ویني کمار وایي چې د افغانستان او هند ترمنځ د ستراتېژیکو همکاریو د تړون له مخې له افغانستان سره د هند مرستې ډېرې شوې او نوی ډیلی ژمن دی چې خپلو مرستو ته دوام ورکړي.
کمار چې پرون یې په کابل کې د افغانستان او هند د امنیتي خبرو اترو په څلورمه ناسته کې خبرې کولې، وویل: «که څه هم زموږ په شاوخوا کې ډېر څه روان دي، خو د افغانستان لپاره د هند بنسټیزه تګلاره دا ده چې د یو خپلواک افغانستان له حکومت سره مرسته وکړي، تر هغه چې افغان حکومت زموږ سره همکار وي، موږ به هم د افغانستان او د دغه هېواد د خلکو د باور وړ همکار پاتې شو».
په کابل کې د هند سفیر همدارنګه وویل چې دوی د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې د خبرو اترو ملاتړ او هرکلی کوي.
د افغانستان او هند د امنیتي خبرو اترو څلورمه ناسته د افغانستان د ستراتېژیکو مطالعاتو او د هند د امنیتي او دفاعي خدمتونو د انسټېټیوټونو له خوا جوړ شوې وه چې پکې له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې د هند او افغانستان تجربې شریکې شوې.
د ستراتېژیکو مطالعاتو د انسټېټیوټ مشر ډاکټر داود مرادیان وایي، دوی پر دې بحث کوي چې څنګه د افغانستان، هند او امریکا په ګډون یو ائتلاف رامنځته کړي، څو له ترهګرۍ سره په ګډه مبارزه وکړي.
مرادیان وویل: «موږ له یوې دولتي ترهګرۍ سره مخ یو چې له پاکستانه سرچینه اخلي چې دا ترهګري هم د افغانستان ملي امنیت ته ګواښ دی او هم د هند. موږ باید په ګډه د دغه ګډ دښمن پر وړاندې له یو بل سره همکاري وکړو.»
د افغانستان او هند د امنیتي خبرو اترو لومړۍ ناسته د ۲۰۱٦ ز کال په مارچ کې د هند په پلازمېنه نوي ډیلي کې جوړه شوې وه. دویمه ناسته یې د ۲۰۱٦ ز کال په اکتوبر کې په هرات کې جوړه شوې وه او درېیمه ناسته یې د ۲۰۱۷ ز کال په سپټمبر کې په ډیلي ښار کې جوړه شوې وه.

## تر لوګر وروسته په هلمند کې د عملیاتو پر مهال ملکي وګړي وژل شوي دي



ورمه شپه د لښکرګاه ښار او نادعلي ولسوالۍ تر منځ د باباجي د شملان په سیمه کې د جګړې پر مهال دوه ملکي وګړي وژل شوي او ۱۴ نور ټپیان دي.
د سیمې اوسېدونکي وایي چې ملکي مرګ ژوبله د هوایي بریدونو په پایله کې اوښتې ده.
د سیمې اوسېدونکو رسنیو ته ویلي، ځانګړو ځواکونو غوښتل چې د لوی مانده په سیمه کې نظامي عملیات وکړي چې وسله والو طالبانو پرې برید کړی او په دې توګه الوتکو پر سیمه بمونه غورځولي دي.
د هلمند د والي ویاند عمر ځواک ملکي وګړو ته د مرګ ژوبلې اوښتل تاییدوي، خو وایي معلومه نه ده چې دا مرګ ژوبله د هوایي او که راکټي برید له کبله اوښتې ده.
ځواک وایي چې د باباجي د سپین مسجد، کوپکې او لوی مانده په سیمو کې د افغان ګډو ځواکونو له لوري نظامي عملیات له تېرو څو ورځو راهیسې دوام لري.
دی زیاتوي: «په عملیاتو کې ۱۷ تنو وسله والو طالبانو ته مرګ ژوبله اوښتې، خو ملکي کسان چې ښځې او ماشومان هم پکې شامل دي او شمېر یې ۱۴ تنو ته رسېږي، ټپیان شوي او ۲ تنه نور ملکي کسان وژل شوي. د هلمند والي د پېښې د څرنګوالي لپاره پلاوی ټاکلی او وروسته به معلومه شي چې ملکي مرګ ژوبله په هوایي بریدونو کې رامنځته شوې او که په ځمکنیو ښتو کې او عاملین یې څوک دي.»
ځواک وایي چې وسله والو طالبانو د ملکي خلکو له کورونو څخه پر ګډو ځواکونو بریدونه کول چې تر برید لاندې راغلي.
په پېښه کې ټپي شوي ملکي کسان په لښکرګاه ښار کې د ایمرجنسي روغتون ته انتقال شوي.
د هلمند د عامي روغتیا رییس ډاکټر امین الله عابد وایي چې په ټپیانو کې ښځې او ماشومان هم شامل دي، خو کره شمېر یې نه ده ښودلې. نوموړي په ټپیانو کې د ځینو روغتیایي حالت نازک ښودلی دی.
باباجي د لښکرګاه ښار د څلورمې حوزې او نادعلي ولسوالۍ ځینې برخې سره نښلوي چې د هلمند د مرکز لښکرګاه ښار تر ټولو نا امنه سیمه بلل کېږي.



# اروپايي اتحادیې هغه سندونه تصویب کړل چې له مخې یې برېتانیا له دې اتحادیې وځي

د اروپایي اتحادیې مشرانو هغه دوه مهم سندونه تصویب کړل چې له مخې یې راتلونکی کال برېتانیا له دې اتحادیې وځي.
د دې شورا مشر ډونالډ توسک په بروکسل کې وویل چې دغه موافقه د اروپایي اتحادیې نورو ټولو ۲۷ غړو هېوادونو هم تصویب کړه.
تر غونډې وروسته د لېتوانیا ولسمشرې دالیا ګریباوسکیات وویل، د بریکزیت موافقه تایید شوه، خو د بریکزیت د وتلو پروسه به ډېر وخت ونیسي.
د برېتانیا لومړۍ وزیرې تریزامې ورمه ورځ د اروپایي کمېسیون له مشر ژان کلاود یونکر او د اروپایي شورا له مشر ډونالډ توسک سره وکتل او دواړو مشرانو ډاډ ورکړی چې د اروپایي اتحادیې مشران به دغه تړون تصویب کړي.
که څه هم د اروپایي اتحادیې ټولو ۲۷ غړو هېوادونو دغه سندونه تصویب کړل، خو دا مسئله د برېتانیا د پارلمان منظورۍ ته هم اړتیا لري.
په پارلمان کې د مې د محافظه کاره ګوند په شمول یوشمېر غړو بیا ویلي چې دوی به د دغه سند پرضد رایې ورکړي.
تریزامې په یوه لیک کې له ولسه هم په مستقیم ډول غوښتي، څو د هغې موافقې ملاتړ وکړي چې حکومت یې د اروپایي اتحادیې له چارواکو سره کړې ده.
مې وویل، دغه موافقه د برېتانیا لپاره یوه روښانه راتلونکې خوندي کوي او له اروپايي اتحادیې وتل به یې د ټول هېواد د روغې جوړې او نوي کولو لپاره یوه نوې مرحله وي.
د بروکسل سرمشریزه وروسته له هغې ډاډمنه شوه چې په وروستیو شېبو کې د مادرید د غوښتنو په اړه چې د جبل الطارق د راتلونکي په اړه دې خبرې وشي، یوه موافقه ترلاسه شوه.
تر دې موافقې وروسته د هسپانیې لومړی وزیر له خپلې هغې خبرې په شا شو چې ګواښ یې کړی و چې که د جبل الطارق د راتلونکي په اړه خبرې و نه شي، دی به د بریکزیت موافقه ویټو کړي.
په شوې موافقه کې برېتانیا او د اروپایي اتحادیې چارواکو په دې اړه هسپانیې ته لیکلي ضمانتونه ورکړي دي.
جبل الطارق چې څه کم اووه کلیومتره مساحت لري او د ایبریا د ټاپو په جنوبي څنډه کې پروت دی، څه باندې درې سوه کاله مخکې برېتانیا له هسپانیې د جګړې په ترځ کې لاندې کړی دی.

## د کتــاب خبــرې

# د رهبرۍ اړینې ځانګړنې

### ۲۱ هغه ځانګړتیاوې چې یو غوره رهبر یې حتماً ولري

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### شپاړلسمه ځانګړنه
**مسئولیت:**



**۳) دوی په ښو شیانو فکر کوي**

کـمال تـه رسېدل د انګېـزې پیـدا کولـو تـر ټولـو ښـه لامـل دی څـوک چـې پـه ښـو شـیانو فکـر کـوي او هڅه کوي چې ځان ورته ورسـوي، تقریباً ټول بامسـئولیته چلند کـوي. بیـا چـې دوی خپلـه ټولـه هڅـه وکـړي، آرام هـم شي. د بریـا کارپـوه جیم رون وایـي: (سـټریس یـا عصبـي فشـار هلـه پیـدا کېږي چې تاسـې لـه خپل حـده لړ کار وکـړئ.) کـه مـو غوره هـدف ځانتـه وټاکه، مسـئولیت به درتـه خپله در ترغـاړې شي.

**٤) دوی حالت ته نه ګوري خو تولید کوي**

د مسـئولیت منونکـي انسـان تـر ټولـو لـوی ځانګړنـه دا ده چـې کار پـای ته رسـوي. ریچـارد ایوانـز پـه خپل کتـاب (Open Road) کې وایـي: (دا څومره ارزښـتمنه خبره ده چـې څـوک یو بامسـئولیته انسـان پیدا کړي، داسـې کس چې هـر کار ورته ورکړو او پـه دې ډاډه شـو چـې دا کار بـه هرومـرو پـای تـه رسـوي.) کـه غواړئ چـې رهبري وکـړئ، باید تولیـد ولرئ.

**پر دې فکر وکړئ**

ګلبریـت ارلنـد نصیحـت کـوي چـې: (غشـی ویشـتونکی چې نښـه خطا کـړي، ځان تـه را وګرځـي او ګـوري چـې سـتونزه یې چېرته وه. نښـه خطا کېدل د نښـې سـتونزه یـا تېروتنـه نـه ده، کـه غـواړئ چې هـدف مـو وده وکړي، تاسـې وده وکـړئ او په ځان کار وکړئ.)

آیـا د مسـئولیت خـبره چـې راځـي، تاسـې پـه خپل هـدف یئ؟ آیـا نور خلک داسـې فکـر کـوي چـې تاسـې کار خلاصـوئ؟ آیا نـور خلک داسـې فکر کوي چې تاسـې په سـختو حالاتـو کـې مسـئولیت اخلـئ؟ آیـا تاسـې د ښـو کارونو پـه کولو مشـهور یئ؟ کـه ستاسـې چـارې او کارونـه پـه لـوړه کچـه نه وي، نو تاسـې بـه د مسـئولیت لرلو لا ډېـر احسـاس ته اړتیـا لرئ.

**د رسېدو لار**

د مسئولیت منلو لپاره لاندې کارونه وکړئ.

- ټینـګار کـوئ. ځینـې وخـت د سـختو حالاتـو تر څنـګ د کارونـو نیمګړې پاتـې کېـدو یـو علـت دا هم وي چې تاسـې پـه کار ټینګار نـه کوئ. دا ځـل که مو په ټـاکلي وخـت کـې کـوم کار پـای تـه ونه رسـاوه یـا مو کومه سـتونزه مـو هواره نـه کړه، نـو یـوه شـېبه تـم شـئ او وګـورئ چـې پـه کومـه لاره یـا طریقه بریـالي کېدای شـئ. د شـپې کار کـولای شـئ؟ لـه خپلو همکارانو نه مرسـته غوښـتلی شـئ؟ بـل څوک د دې کار لپـاره ګومارلـی شـئ؟ خلاقیـت کـولای شي چې په ژوند کې مسـئولیت پیدا کړي.
- څـه چـې ډېر ښـه نـه وي، ویې منئ. که لوړې او ښـې کچې ته په رسـېدو کـې لـه سـتونزو سره مـخ یئ، ښـایي لامـل یـې دا وي چې د خپلـو معیارونـو کچه مو راټیتـه کـړې ده. خپـل ژونـد ته ځیر شـئ او وګـورئ چې په کومه برخه کـې مو دا کار کـړی دی؟ بیـا پـه هغـو برخو کـې بدلـون راوړئ او لوړ معیارونـه درته وټاکـئ. له دې سره لـوړې او ښـې کچـې تـه ستاسـو د رسـېدو لېوالتیـا هـم ډېرېږي.
- ښـه وسـایل ولټوئ. که پوه شـوئ چـې معیارونه مو هم لـوړ دي، لیدلوری مـو هـم سـم دی، ټینـګار هـم لـرئ، خـو بیـا هـم هغـه څـه تـه نشـئ رسـېدلی چـې تاسـې یـې غـواړئ، نـو بیـا په ځـان کار وکـړئ او ځـان مجهز کـړئ. روزنیزو کورسـونو او ټولګیـو تـه لاړ شـئ. لا ډېـر کتابونـه ولولـئ. روزنیـز فلمونه وګورئ. ځانته یو مشـاور پیـدا کـړئ او خپـل منـزل تـه د رسـېدو لپـاره چـې مـو هـر کار له وسـه پـوره وي هغه وکړئ.

**له تجربې زده کړه**

پـه کالیفورنیـا کـې یـو بنـدي لـه زندانه تېښـتېدلی و، بیا یـې د زندان مشر ته داسـې بهانـه کـړې وه چـې: (ما پـه زندان کې هغـه لوبه کولـه چې سرې د نیزې څوکه په ځمکـه ږدي او بیا یـې پـه بلـه څوکـه ځـان هـوا تـه پورته کـوي، پام مـې نـه و، دېوال تـه دومـره نـږدې شـوی وم چـې ها خـوا ترې واوښـتم او په ځمکـه ولوېـدم، بېرته چې پـه سـد شـوم ګـورم چـې لـه زندانه بهر پـروت یـم، بیـا زه دلته نابلـده وم، بېرتـه مې د زنـدان لاره هـم نـه شـوه پیـدا کـولای، خـو یـو وخت چـې په ځـان پوهېدم ګـورم چې شـیکاګو ته رسـېدلی یم.

انسـان یـې چـې ترڅـو د نورو لـه خولې وانه وري، خپلـه پـه دې نه پوهېـږي چـې د ده عذرونـه او پلمـې څومـره ضعیفـه او کمـزورې دي. **دوام لـري...**

# سوډان

حشمت الله نوري

سـوډان د افریقـا د لویـې وچـې پـه شـمال ختیـځ کـې د ختیځـو طـول البلدونـو د ۲۲ او ۳۹ درجو او د شـمالي عرض البلدونو د ۳ او ۲۲ درجـو ترمنځ موقعیـت لـري.

د دغـه هېـواد شـمال تـه مصر، جنـوب تـه یـې ایتوپیـا، ختیـځ ته یې سـور سـمندرګی او لوېدیـځ تـه یـې د مرکـزي افریقـا جمهوریت پروت دی.

د سـوډان هـوا پـه عمومـي توګـه په شـمال کـې تـوده، وچـه او سـوځنده او پـه سـوېل کـې بیـا تـوده او لنده ده. له شـمال څخه سـوېل تـه یـې ژمـی وچ او دوبـی یـې بیـا تـوده او بـاراني هـوا لـري.

د دغـه هېـواد ډېـره خـاوره هـواره ده چـې شـمال ختیـځې سـیمې یـې کرنـې تـه جـوړې دي. شـمال لوېدیځـه خوا یـې هغه ډاګ نیولـې چـې لـه لیبیـا څخـه دغـه هېـواد تـه ننوتـی دی. د مصر د رومي نیل دوه سـتر مرسـتیال سـیندونه سـپین نیـل او شـین نیـل لـه ایتوپیـا او یوګنـدا څخـه سـوډان تـه ننـوزي چـې د خرطـوم پـه ښـار کـې سره یـو ځـای کېږي.

د دغـه هېـواد پلازمېنـه خرطـوم ښـار دی، نفـوس یـې نـږدې ۴۰ میلیـون کسـانو تـه رسـېږي چـې پـه هـر کیلومـتره مربـع کـې یـې ۴۸ کسـان ژونـد کـوي.

د دغـه هېـواد ۵۰ سـلنه وګـړي پـه ښـارونو او پاتـې ۵۰ سـلنه نـور یـې بیـا پـه کلیـو او بانډو کـې ژونـد کـوي. دغـه هېـواد د ۷۱۵۹۵۵ کیلـو متره مربـع پراخـوالي لـه کبلـه د نـړۍ ۱۶م لـوی هېـواد دی. همـدا راز د دغـه هېـواد د قانـون لـه مخـې هـره کورنـۍ پـه ټول عمر کـې د پنځو ماشـومانو د درلـودو اجـازه لـري.

سـوډان د اداري وېـش لـه پلـوه پـه ۱۷ ولایتونـو وېشـل شـوی دی. دورمـان، پورت سـوډان، وادمدنـي، کوسـتي، کاسـالا او الفـاشر یـې مهـم ښـارونه دي.

د دغـه هېـواد ۷۲سـلنه خلک تور پوسـتي، ۷سـلنه بیجـا او پاتـې نـور یـې لـه نوبافالاتا افـور نـژاد څخـه دي. رسـمي ژبـې یـې انګلیسـي او عـربي دي او لیکـدود یـې عـربي دی.

د جنـوبي سـوډان لـه جلا کېـدو مخکـې دغـه هېـواد د اساسـي قانـون پـر مسـوده کار وکـړ او د پړاوونـو تـر وهلـو وروسـته بـه د هغـه لنډ مهالـه اساسـي قانـون ځـای ونیسـي چـې د ۲۰۰۵ ز کال د جـولای پـه پنځمـه نافذ شـو. د دغـه هېـواد اوسـنی ولسـمشر جنـرال عمرحسـن احمد البشـیر دی. نومـوړی پـه ۱۹۸۹ ز کال کـې د سـوډان د انقلابي شـورا د مـشر پـه توګـه وټـاکل شـو. دې شـورا لـوړه کـړې وه چـې د هېـواد ژغورنـې لپـاره بـه کار کـوي. کلـه چې دې شـورا د چـارو واک تـر لاسـه کـړ، عمرالبشـیر د انقلابي شـورا د مـشر او د هېـواد د لومـړي او دفـاع وزیـر پـه توګه یې دنـده واخیسـته. وروسـته د دې انقلابي شـورا لـه خـوا پـه ۱۹۹۳ ز کال کـې د سـوډان د ولسـمشر پـه توګـه وټـاکل شـو. عمرالبشـیر د ۱۹۹٦ ز کال پـه مـارچ کـې د دویـم ځـل لپـاره، خـو دا ځـل د خلکـو پـه خوښـه ولسـمشر شـو او تراوسـه دا دنـده مـخ تـه وړي.

د سـوډان ولسـمشر د خلکـو پـه خوښـه د پنځـو کلونـو لپـاره ټـاکل کېږي. د دغـه هېـوا د کابینـې وزیـران بیـا د ولسـمشر لـه خـوا ټـاکل کېږي چـې ډېـر یـې د پخوانـۍ اسـلامي جبهـې غـړي دي. دا جبهـه چـې پـه ۱۹٦۸ ز کال کـې جـوړه شـوې، د دغـه هېـواد کورنـۍ او بهرنـۍ تګلاره ټاکـي.

د سـوډان مـلي شـورا دوې خونـې لـري. لومـړۍ؛ د دولـت شـورا چـې ۵۰ غـړي لـري او پـه غیر مسـتقیمه توګـه د دولـت د قضایـي سیسـټم لـه خـوا د شـپږو کلونـو لپـاره غـوره کېـږي. دویـم؛ ولسـي جرګـه چـې ۴۵۰ غـړي لـري، لـه دې ډلـې یـې ٦۰سـلنه د جغرافیایـي وېـش لـه مخـې، ۲۵سـلنه د ښـځو او ۱۵سـلنه د ګوندونـو لـه لېسـتونو څخـه ټـاکل کېـږي او د شـپږو کلونـو لپـاره کار کـوي. پـه سـوډان کـې د رایـې ورکولـو سـن ۱۷ کالـه او رایـه ورکول پکـې عمومـي دي.

د اساسـي قانـون محکمـه، سـتره محکمـه، د اسـتیناف محکمـه او نورې مـلي محکمـې د دغـه هېـواد لـوړ قضایـي ارګانونه دي.

د مـلي یـووالي د پلویانـو ګونـد، د مـلي یـووالي د اصلـي پلویانـو ګونـد، د خلکـو کانګرېـس ګونـد او د امـت د نـوي کېدلو او اصلاحاتـو ګونـد د دغـه هېـواد لـوی او نفوذ لرونکـي ګوندونـه دي.

سـوډان د ۱۹۵٦ ز کال د جنـوري پـه لومـړۍ لـه برېټانیـا او مصر څخـه خپلواکي ترلاسـه کـړه، نـو لـه همـدې کبلـه د جنوري لومـړۍ هـر کال پـه دغـه هېـواد کـې د خپلواکـۍ د ورځـې پـه نوم نمانځل کېږي.

سـوډان لـه وروسـته پاتـې هېوادونـو څخـه دی. بېـوزلي پـه دغـه هېـواد کـې کورنیـو جګـړو، شـخړو او پرلـه پسـې سیاسـي ناکراریـو تـه لاره هـواره کـړې ده. ان تر دې چـې د ۲۰۱۱ ز کال پـه جـولای کـې دغـه هېـواد وویېشـل شـو او د جنـوبي سـوډان پـه نـوم تـرې بـل هېـواد جلا شـو.

خرابـه هـوا، د مسـلکي کادرونـو لږوالـی، لـوړ انفلاسـیون او پـه سـیمه کـې د ناکراریو لـه املـه د سـوډاني کارګرانـو د عوایـدو کموالـی او ناسـمې اقتصـادي تګلارې هغـه عوامـل دي چـې پـه سـوډان کـې یـې اقتصـادي سـتونزې رامنځتـه کـړې. د دغه هېـواد د تېلـو ۸۰ سـلنه زېرمـې پـه جنوبي برخـو کـې موقعیـت لـري. د دغـه هېـواد د تېلـو د اسـتخراج چـارې لومـړی ځـل پـه ۱۹۹۹ ز کال پیـل شـوې چـې وروسـته یې تولیـدات ډېـر شـول، نـو لـه همـدې کبلـه دغـه هېـواد د تېلـو د عوایـدو پـه مټ پـه تېـرو دوولسـو کلونـو کـې پرمختـګ وکـړ.

پـه سـوډان کـې د اقتصـاد بنسـټونه کمـزوري دي، لویـې فابریکـې نشـته، ډېـر ځوانـان وزګاره دي او کرنـه د بـدې هـوا او لـږو اوبـو پـه شرایطـو کـې د سـتر پرمختګ امـکان نـه لـري؛ ځکـه بـه دغـه هېـواد پـه راتلونکـي کـې هـم لـه اوسـنیو سـتونزو سره مـخ وي او د خلکـو ژونـد بـه لـه سـتونزو ډک وي.

د دغـه هېـواد د ناخالصـو کورنیـو تولیداتـو کچـه ۹۰ میلیـارده ډالـره او د سـړي سرکلنـي عایـد کچـه یـې ۳۴۵۹ ډالـرو تـه رسـېږي.

د دغـه هېـواد ۲۵سـلنه وګـړي وزګار دي او ۴۷ سـلنه کورنـۍ یـې د بېوزلـۍ تر کرښـې لانـدې ژونـد کـوي. دغـه راز د عوایـدو کچـه یـې پنځـه میلیـارده ډالـره او د لګښـتونو کچـه یې بیـا ۷ میلیـارده ډالـره اټکل شـوې ده.

د تېلـو ایسـتل، خوراکـي توکـي، د پنبـې پروسـس، ټوکـران، بوټونـه، صابـون، سـمنټ، فلـزي توکـي، کیمیـاوي توکـي، د کانـي مـوادو ایسـتل، ښیښـه، چینـي لوښـي، کاغـذ، د لاریـو او کوچنیـو نقلیـه وسـایطو مونتـاژ او نـور د سـوډان مهـم صنعتـي توکـي دي.

د دغـه هېـواد ۱۰سـلنه ځمکـه د کرنـې وړ ده. ۴۷ سـلنه یـې څړځایونـو، ۲۰ سـلنه ځنګلونـو او پاتـې نـوره بېدیـاوو، غرونـو، سـیندونو، ښـارونو او د اسـتوګنې کلیوالـو سـیمو نیولـې ده. د سـوډان ۸۱ سـلنه خلـک د کرنـې پـه سـکټور کـې پـه کار بوخـت دي او د هېـواد ۵٦ سـلنه صـادرات او ۲۵ سـلنه ناخالـص کورنـي تولیـدات لـه دغـه سـکټور څخـه لاس تـه راځـي.

ربـړ، لرګـي، پنبـه، ګنـې، کونځلـې، غنـم، ږدن، شړشـم، خرمـا، بـادام، کېلـې، ام، سـابه، غوښـه، لبنیـات، هګـۍ او واښـه د سـوډان د کرنـې او څارویو مهم محصولات بلـل کېـږي.

سـوډان ۹۰ هوایـي ډګرونـه لـري چـې ۲۰ یـې پـه پاخـه او عـصري ډول رغـول شـوي دي. د ټیلیفـون کـوډ نمبر یـې ۰۰۲۴۹او د انټرنېـټ کـوډ نمبر یـې ایـس ډي دی او د هېـواد څلـور میلیونـه وګـړي یـې انټرنېټ ته لاسرسـی لري.

پـه سـوډان کـې رسـنۍ د دولـت پـه ګټه خپرونـې کـوي او ټلوېزیـوني خپرونـې یې د پـوځ لـه خـوا کنټرولېـږي. دغه راز د رسـنیو خصـوصي برخـه یـې راډیوګانـې لـري.

د سـوډان ۵۲ سـلنه خـک پـه لیـک او لوسـت پوهېـږي او زده کـړه پکـې لـه ٦ تـر ۱۳ کلنـو ماشـومانو او تنکیـو ځوانانـو لپـاره جـبري ده.

لـه میـلاد څخـه ۳ زره کاله مخکـې شـمالي سـوډان د مصریانـو لاس تـه ورغـی. پـه همـدې وخـت کـې یونانیـان د نوبـه پـه سـیمه لاسـبري وو او لـه دې څخـه ۱۵۰۰ کالـه وروسـته مصریـان لـه سـوډان څخـه ووتـل. پـه ۷۳۰ ز کال کـې سـوډاني واکمـن ناپاتـا ټـول مصر ونیـو او ٦۲ کالـه یـې د فرعـون پـه نامـه پـه مـصر واکمنـي وکـړه. پـر مـصر بانـدې د سـوډاني واکمنـۍ لـه کمزورتیـا وروسـته د نیـل پـه شـا و خـوا کـې درې کوچنـي دولتونـه جوړشـول چـې نوباتیـا، دونګـولا او الودیـا نومېـدل چـې تر شـلمې پېړۍ پورې یـې دوام وکـړ. ان هغه وخـت چـې یونانیانـو، رومیانـو او نـورو عربو مـصر ونیـو، پاسـنې درې کورواکـه دولتونه پـه واک کـې وو. دغو هېوادونـو د مدیترانې او افریقـا ترمنـځ د مرېیانـو سـوداګري کولـه. دوی پـه شـپږمه میـلادي پېړۍ کې مسـیحي دیـن ومانـه چې پـه راتلونکو سـلو کلونـو کـې ډېـر پراخـه شـو. کله چـې عربو مـصر ونیـو، د اسـلام پلوشـې د نیـل څنډو تـه ورسـېدې.

پـه ۱۴مـه میـلادي پېړۍ کـې د الودیـا واکمنـې رنګـه او هغـه دوه نـورې کمـزورې شـوې وې. لـه همدې املـه د اسـماني شـنه نیـل پـه څنـګ کـې د سـنار پـه لوېدیځ کـې د کوردوفـان او پـه منځنیـو ډاګونـو کـې د دارفـور نـوې واکمنـۍ جـوړې شـوې.

لـه ۹ مـې نـه تـر ۱۵ مـې میـلادي پېړۍ پـورې د شـمالي سـوډان ټـول اوسـېدونکي مسـلمانان شـول. پـه ۱۸۲۰ ز کال کـې مـصري واکمـن محمـد علـي پاشـا بیـا د مرېیانـو او سرو زرو پـه تمـه لومـړی شـمالي سـوډان ونیـو. پاشـا پـه خرطـوم کـې یـوه پوځـې اډه جـوړه کـړه او تـر ۱۸۷٦ ز کال پـورې یـې د سـوډان ټولـه خـاوره لانـدې کـړه.

افغانسـتان او سـوډان پخـوا نـا اسـتوګنې اړیکـې درلـودې چـې د ثـور لـه کودتـا وروسـته سـړې شـوې.

لـه افغانسـتان څخـه تـر سـوډان پـورې د هـوا لـه لارې فاصلـه ۴۴۴۸ کیلومـترو تـه رسـېږي او دغـه راز د کابـل او خرطـوم ترمنـځ د وخـت توپیـر هـم دوه نیـم ساعته دی.



## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦ |
| € | ۸٦,۲۰ |
| Rp. | ۵۵۲ |
| ₹ | ۱۰۵۵ |
| ¥ | ۱۰,۸۵ |
| £ | ۹۷ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بيړنۍ شميرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# د اېټاليا لس مشهور او جذاب ښارونه

ژباړه: حميدالله حميدي

له شک پرته چې اېټاليا د سيل او چکر لپاره خورا جذاب او ښايسته ځايونه لري. د اېټاليا ښارونه د خپلې تاريخي مخينې، ښکلې طبعيت او جذابو ځايونو له کبله چې د ځنځير د کړيو په څېر يو پر بل پسې نښتي دي، نړيوال شهرت لري. نن غواړو تاسو ته د اېټاليا د مشهورو او جذابو ښارونو او دغه راز د هغو ځايونو په اړه معلومات درکړو چې د سيل او چکر لپاره خورا مناسب دي.

**۱- روم**

د روم ښار چې د اېټاليا پلازمېنه ده، د خپلو تاريخي اثارو، زړو کليساوو، ښکلو ابشارونو، موزيمونو او د رنسانس دورې پورې اړوند ودانيو په درلودو سره خورا مشهور دی. نوی روم بيا هغه ښار دی چې له شور او ځوږ ډک دی. ښکلي سوداګريز مرکزونه، هوټلونه او رسټورانټونه لري. د روم ښار شپه او ورځ له خلکو ډک وي او تګ راتګ پکې ښه زيات دی. که روم ته ولاړې، لږ تر لږه درې ورځې په دغه ښار کې پاتې شئ او هڅه وکړئ چې د نړۍ کوچنی هېواد واتيکان ته هم سفر وکړئ چې د پخواني روم په زړه کې اباد شوی دی.

**۲- وينز**

وينز چې په اېټاليوي ژبه کې ورته Venezia وايي، د اېټاليا په شمال ختيځه برخه کې پروت هغه ښار دی چې د ختيځې او لوېديځې اېټاليا ترمنځ پل هم بلل کېږي. دغه ښايسته ښار د اوبو په منځ کې ودان شوی دی. وينز د اېټاليا هغه ښار دی چې تر ټولو انتيکې ودانۍ لري او په کلني ډول ترې ګڼ شمېر سيلانيان



ليدنه کوي. دغه ښار په خپل زړه کې ګڼ موزيمونه او تاريخي ودانۍ لري چې په ليدلو ارزي. تر ټولو په زړه پورې خو دا ده چې د دې ښار په منځ کې د کښتيو تګ راتګ د ښار ښکلا څو برابره کړې ده.

**۳- فلورانس**

فلورانس چې په اېټاليوي ژبه ورته Firenze وايي، د اېټاليا هغه ښار دی چې د رنسانس دورې هنر، نجاري او معماري په کې خپل اوج ته رسېدلي وه. په فلورانس ښار کې ګڼې مجسمې ودانې شوې دي. د دغه ښار بل جذابيت په دې کې دی چې د مديچي کورنۍ ګڼ باغونه او ودانۍ پکې دي چې پېړۍ پېړۍ يې په اېټاليا کې حکومت کړی دی.

**۴- مېلان**

مېلان چې په اېټاليوي ژبه کې ورته Milano وايي، د اروپا تر ټولو بډای ښار دی. مېلان نن سبا د نړۍ د تر ټولو مډرنو سوداګريزو مرکزونو، رسټورانټونو او هوټلونو په درلودو سره د هغه ښار په نوم پېژندل کېږي چې ژوند ډېر په چټکۍ پکې روان دی او ورځ تر بلې عصري کېږي.

**۵- ناپل**

ناپل چې په اېټاليوي ژبه کې ورته Napoli وايي، د اېټاليا بل مشهور ښار دی. دغه ښار د روم ساحل په جنوبي برخه کې موقعيت لري. که څه هم چې په دغه ښار کې ډېره بيارغونه شوې ده، خو خپل پخوانی جوړښت يې لاهم ساتلی دی. دغه ښار په خپل زړه کې ګڼې تاريخي او هنري زېرمې لري.

**٦- ورونا**

د ورونا ښار په دوو شيانو ډېر مشهور دی. يو د (روميو او ژوليت) د مينې په کيسه او بل د ورونا (Arena di Verona) په لوبې ننداري. که اېټاليا ته مو سفر وکړ، د دغه هېواد په شمال کې مو د دغه ښار ليدل هېر نه شي.

**۷- تورين**

مول آنتونليانا د تورين ښار تر ټولو مشهور او معلوم سمبول دی چې نوم يې هم د همدغه سمبول يا نښان له جوړوونکي الساندرو آنتونلي څخه اخيستل شوی دی. تورين چې په اېټاليوي ژبه کې ورته Torino وايي، د دغه هېواد په شمال لوېديځه برخه کې پروت او د (پيه مونټه) ولايت مرکز دی. دغه ښار يو تاريخي مرکز هم بلل کېږي چې ګڼ شمېر موزيمونه او تاريخي ځايونه هم لري.

**۸- بولونيا**

بولونيا د شمالي اېټاليا د اميليا رومانيا په سيمه کې تر ټولو لوی ښار دی. دغه ښار د ګڼو نعمتونو، ښکلا او ځانګړې اشپزۍ له کبله خورا مشهور دی. سړکونه يې په ونو پوښل شوي دي. همدا لامل دی چې په دې ښار کې پلی تګ ان په باراني موسم کې هم په زړه پورې دی. د اروپا تر ټولو پخوانی پوهنتون (بولينا) هم په دې ښار کې دی.

**۹- جنوا**

جنوا د اېټاليا جنوبي څنډه او د دغه هېواد اصلي بندر دی. دغه بندري ښار په ۲۰۰۴ ز کال کې د اروپا د فرهنګي پلازمېنې په نوم هم ونومول شو. له ۲۰۰۴ ز کال وروسته دغه ښار د نړۍ د ګڼ شمېر هېوادونو د اوسېدونکو پام ځان ته واړاوه. اوس په کلني ډول زرګونه کسان له دغه ښار څخه ليدنه کوي چې د عوايدو يوه ښه سرچينه بلل کېږي.

**۱۰- پروجا**

پروجا د اومبر ناحيې مرکز دی. د دغه ښار تاريخچه چې دفاعي دېوالونو پوښلې دی، له ميلاد څخه مخکې نهمې پېړۍ ته ورګرځي. د پروجا ښار د يوې لويې ډبرينې غونډۍ پر سر ودان شوی دی چې کولی شی له دې غونډۍ څخه لاندې له ښکلې شنه طبيعت څخه خوند واخلئ. دغه ښار دوه لوی پوهنتونونه هم لري چې يو يې يوازې د اېټاليوي ژبې زده کړې او ادبياتو ته ځانګړی شوی دی.

## لاريونوال: دولتي ځواکونه له جاغوري ولسوالۍ په ګيلان ولسوالۍ کې د خلکو کورونه په نښه کوي

له غزني ترلاسه شوي رپوټونه وايي، د ګيلان ولسوالۍ په مرکز جنډه کې پرون بيا لاريونونه شوي دي.

لاريونوال پر حکومت تور لګوي چې دوه ګونی چلند ورسره کوي او په جاغوري او مالستان کې د طالبانو د بريدونو غچ له دوی اخيستل کېږي.

پاريدلو خلکو پرون تر غرمې مخکې د کابل - کندهار لويه لاره د ټرافيکو پرمخ تړلې وه. دغه لاره د شنبې پر ورځ هم د څو ساعتونو لپاره تړلې وه.

د غزني د والي وياند عارف نوري وايي، د جاغوري له جګړې څخه وسله وال د ګيلان ولسوالۍ رسنۍ سيمې ته تښتېدلي او



افغان او بهرنيو ځواکونو هلته پرې هوايي بريدونه کړي.

نوموړی مني چې په دغو بريدونو کې ملکي وګړو ته هم مرګ ژوبله اوښتې چې په وينا يې خلکو يې په غبرګون کې پر لاريونونو لاس پورې کړی دی.

د والي وياند وايي، اوس په ګيلان کې هوايي او چاپېز عمليات درول شوي، ځکه وېره وه چې ولسي وګړو ته به نوره مرګ ژوبله هم ور واوړي.

ځايي خلک بيا وايي چې افغان ځواکونه له تېرو څو ورځو راهيسې د غزني له مرکز او له جاغوري ولسوالۍ د ګيلان پر لور د توپونو ډزې کوي.

د ګيلان د اوسېدونکو په پروني لاريون کې زرګونو تنو ګډون کړی و او خبرداری يې ورکړ چې که يې غوښتنو ته پام ونه شي، نو تر دې پر سختو اقداماتو به لاس پورې کړي.

د غزني د والي وياند وايي، سيمه ييزو چارواکو له لاريونوالو سره خبرې کړې او ډاډ يې ورکړی چې هلته به د ولسي وګړو د وژنې او د روان وضعيت په اړه جدي پلټنې کېږي.

نوموړي زياتوي چې تر دې خبرو وروسته د سيمې خلکو احتجاج ختم کړی او د کابل - کندهار لاره اوس بېرته پرانيستل شوې ده.

## سيګار: حکومتي ادارو تېر کال لس ميلياړده افغانۍ بې حسابه لګولې

د افغانستان د بيارغونې لپاره د امريکا د ځانګړې پلټنې اداري يا سيګار ويلي، د ۱۳۹٦ لمريز مالي کال په اوږدو کې لسګونه ميلياړده افغانۍ بېلابېلو ادارو لګولې، خو د لګښتونو سندونه يې نه لري.

دې ادارې په خپل تازه راپور کې ويلي، د حزب اسلامي د مشر ګلبدين حکمتيار لګښتونه، د سولې پروګرام، د چارو ادارې مامورينو لوړ معاشونه، د ملي امنيت لګښتونه، د افغانستان بانک د قرضونو جبران او د دولتي ادارو اوپراتيفي لګښتونه بې حسابه پاتې دي.

دې ادارې ويلي، د ۱۳۹٦ لمريز کال مالي بودجې يوه برخه د تېرو کلونو په څېر له ټاکلو موخو سره په ټکر کې د حکومتي ادارو له لوري لګول شوې ده.

امنيتي ارګانونه، د ولسمشرۍ ماڼۍ، د چارو اداره، افغانستان بانک او د علماوو شورا هغه بنسټونه دي چې د دې ادارې په وينا د بودجې په مصرفولو کې يې روڼوالی نشته.

د پلټنې ادارې د دغه راپور پر بنسټ، د ملي امنيت ادارې ۲۹۰ ميليونه افغانۍ د ګلبدين حکمتيار د امنيتي تدابيرو، لوجستيک، مېشت ځای او دفتر فعالولو پر چارو لګولې دي.

د دې ادارې مرستيال سيدمهدي حسيني په يوه خبري غونډه کې وويل، دا لګښتونه د ولسمشر په حکم د ماليې وزارت ورکړي او د لګولو هېڅ سند په لاس کې نه شته.

دی وايي: « کله چې موږ دا اسناد وليدل، په اسنادو کې د ماليې وزير صېب هم ويلي وو چې د تدارکاتو د قانون له مخې دې دا طی مراحل او ولګول شي او د ولسمشرۍ ماڼۍ حکم هم همداسې و چې په دې برخه کې دې د تدارکاتو قانون مراعات شي، خو موږ چې کله اسناد وغوښتل، په ښېښې سره د لګول شويو پيسو په اسنادو کې داسې سند موږ و نه ليد چې په هغه کې دې د تدارکاتو قانون مراعات شوی وي».

دې ادارې ويلي، د ملي امنيت ادارې شاوخوا ۳۰۰ ميليونه افغانۍ د سولې او د خلکو د همکارۍ ترلاسه کولو په پروژه کې لګولې چې ملي امنيت د موضوع د محروميت په دليل د اسنادو له ورکړې ډډه کړې ده.

په دغه راپور کې راغلي، ٦،۷ ميلياړده افغانۍ د افغانستان بانک شتمنۍ د کمېدو د جبران په موخه منظور شوي چې دغه بانک بيا د ماليې وزارت له لوري په دغه نوم د بودجې له ورکړې منکر دی، خو ويلي يې دي چې ۷،۹ ميلياړده افغانۍ يې د کابل له پوروړو ترلاسه کړې دي.

د سيګار په وينا، په ۱۳۹٦ لمريز کال کې ارګ، اجراييه رياست، ملي امنيت رياست او سيمه ييزو ارګانونو ادارې نږدې اته سوه ميليونه افغانۍ تر منظور شويو پيسو ډېرې لګولې دي.

په راپور کې راغلي، تېر کال يو ميليارد افغانۍ ځينو ادارو کارکوونکو ته د فوق العاده (غوره) معاشونو او له کابل ښاروالۍ پوروړو ادارو ته ولسمشرۍ ماڼۍ اجرا کړې چې په اسنادو کې يې څرګندوالی نشته.

د پلټنې ادارې موندنې ښيي چې نږدې دوه ميليونه ډالر د حکومت له بودجې امريکا ته د «افغان ساتنې» په نامه د يوه غيرحکومتي سازمان د غړو پر سفر لګښت شوي او تراوسه يې حساب روښانه شوی نه دی.

له خلکو د مخابراتي ټکسونو راټولول هم هغه څه دي چې پلټنې ادارې يې په روڼوالي شک ښودلی او ويلي يې دي چې سږ کال يې عايد د تېر کال په پرتله کم شوی، په داسې حال کې چې کارکوونکي يې ډېر شوي دي.

مسير ورځپاڼه
مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: عبدالرقيب نوري
ليکوالان: محمد نظيم سمون، شفيق اميرزی، جاويد کوټوال او شفيق همدرد
خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين، حشمت نوري او جواد تيموري
ګرافيک او ډيزاين: ارمان
چاپخونه: وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

دوشنبه د ۱۳۹۷ د لیندۍ پنځمه | د ۲۰۱۸ د نومبر ۲۶مه | دویم کال | ۲۸۹یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | ۱۸ | ۲٤ | ۱۹ | ۲۷ | ۲۳ |
| ٤ | ۷ | ۱۱ | ٦ | ۱۳ | ۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۹ | لمر ختل ۰٦:۳٦ | ماسپښین ۱۱:٤۱ | مازیګر ۰۳:۰٦ | ماښام ۰٤:٤٤ | ماخوستن ۰٦:۲۳

## روسیه: متحده ایالتونه دې له خپلسرو او یو اړخیزو اقداماتو ډډه وکړي



د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګي لاوروف ویلي، د متحده ایالتونو وروستیو اقداماتو ته په پام، دوی هیله من دي چې دغه هېواد راتلونکی هر ممکنه اقدام روسیې ته په درناوي ترسره کړي.

نوموړي ویلي، دوی هیله من دي چې امریکایي اداره په راتلونکي کې له یو اړخیزو اقداماتو ډډه وکړي او سیمه ییز غبرګونونه په پام کې ونیسي او د نورو هېوادونو د بهرني سیاست خپلواکۍ ته درناوی وکړي.

هغه ویلي، د ټرمپ له ادارې غواړي چې په راتلونکي هر اقدام کې روسیې ته درناوی په پام کې ونیسي.

لاوروف دغه راز ویلي، د ټرمپ اداره دې له روسیې سره د ترینګلو اړیکو د رغېدو لپاره هڅه وکړي او د ټولو هغو اقداماتو مخنیوی دې وکړي چې د ده په وینا د مسکو او واشنګټن ترمنځ د ستونزو د ډېرېدو لامل کېږي.

لاوروف ویلي: « امریکا او نورو لوېدیځو ملګرو له تېرو ۲۵ کلونو را په دېخوا د ډیپلوماسۍ اصول او د خبرو اترو سټنډرډونه له پامه غورځولي او دغه څه به په راتلونکي کې ناوړه پایلې ولري».

## نړۍ



## اروپايي اتحاديې هغه سندونه تصويب کړل چې له مخې يې بريتانيا له دې اتحاديې وځي

۳

په اسلام کې هر ډول تاوتریخوالی منع دی، خو ترهګر هېڅکله اسلامي ارزښتونو ته درناوی نه کوي او د هغو پر خلاف کړنې کوي. دیني عالم مولوي عبدالشاکر صافي وویل: "ترهګر په قرآنکریم نه پوهېږي، خلک وژني، په جوماتونو کې ځانمرګي بریدونه کوي، د سړک پر غاړه ماینونه ږدي او مسلمانان وژني. دوی دې ډول کړنو سره، اسلام بدناموي."




در اسلام هر گونه خشونت ممنوع است، اما تروریستان هیچگاه به ارزش های اسلامی احترام نگذاشته و خلاف آن عمل می کنند.
مولوی عبدالشاکر صافی عالم دین گفت:"تروریستان قرآنکریم را نمی فهمند، مردم را می کشند، حملات انتحاری را در مساجد انجام می دهند، ماین ها را در کنار سرک جابجا می کنند و مسلمانان را می کشند. اعمالی که آنان انجام می دهند، اسلام را بدنام می کنند."